عبدالمجید ارغستانی ۲۰۱۰/۱۱/۲۵

# ملی مسائل او ملی ګټی( ملی منافع )څه ته وایی ؟

څو ورځی مخکی د آزادی رادیو چی په هیواد کی تر بلی هری رِغیزی رسنی ډیر اوریدونکی لری دوه ساعته خپرونه می اوریدل، د بحث موضوع د افغانستان د ګاونډیانو (پاکستان، ایران) رول د افغاستان د سولی او جګړی په باب وه.

د خپرونی میلمانه هغه په اصطلاح د سیاسی چارو کارپوهان! ښاغلی احمد سعیدی او ښاغلی محمد یونس فکور را بلل سوی وه٠

زه غواړم د ګرانو هیوادوالو پاملرنه د ښاغلو کارپوهانو! ځینو ځرګندونو ته راواړوم او ستاسو حضور ته یی د قضاوت لپاره وړاندی کړم.

ښکاره خبره ده کوم وخت چی د افغانستان او پاکستان اړیکی خیړل کیږی د ډیورند تش په نامه کرښه به هرو مرو یادیږی، په پورتنی بحث کی هم ځینو اوریدونکو د ډیورند کرښه د دوو هیوادونو ترمنځ اساسی ستونزه بلله او د میلمنو نظر یی غوښتی، د ښاغلو میلمنو یو، دوه ځوابونه په دی ډول وه:

احمد سعیدی ډیر په سپکه او بی باکه توګه وویل چی نور دا بی ځایه ډرامه ده ، په افغاستان کی موږ پخوا چیغی وهلی دا پختونستان زموږ او دا پختونستان ... یو بیرغ د پښتونستان په واټ کی ځړیدی چی هغه هم مجاهدینو له منځه یوړ... او په پاکستان کی پښتانه مشران په پارلمان کی ناست دی او پاکستانی پاسپورتونه یی په جیب کی دی او موږ د دا پختونستان ... ناری وهو. ښاغلی سعیدی د خبریال ډی پوښتنی په ځواب کی چی د پښتنی قبایلو (۱۳۰۰) مشران د طالبانو او وسله والو له خوا په شهادت رسیدلی دی وویل: د پښتنو قبایلو مشران ټول د آی، اس، آی جاسوسان دی نو ځکه یی طالبان وژنی او پدی اړه یی د یو قومی مشر چی دی یی میلمه کړی وو، او اوس مړ دئ کیسه وکړه چی څنګه د استخباراتو څخه پیسی اخیستی وی٠

ښاغلی فکور تر سعیدی هم وړاندی ولاړ او داسی کارپونه ! یی وکړه : د ډیورند کرښه د سلو کالو مخکی خبره ده اوس هیڅ مفهوم نلری موږ دا موجوده خلکو ته ډوډی نلرو او ډول ته مو لرګی اچولی دی چی دا پښتونستان ... یاده دی وی چی د ښاغلی فکور هغه ملاقات چی د انګلیس سفیرسره یی کړی وو او افغانان یی وحشی۰۰۰ بللی وه د خلکو ندی هیر٠

ما ته د فکور خبری داسی مفکوره را کړه چی که موږ ډوډی نه درلوده نو د خاوری بشپړتیا هیڅ مفهوم نلری او که ډیر وږی سو یو بل قسمت خاوره هم لیلام ته ایښودلای سو!

د ښاغلی سعیدی څخه پوښتنه داده چی نوموړی همیشه پاکستانی طالبان د آی، اس، آی پوځ او غړی بولی، او پښتانه مشران هم د آی، اس، آی اجنټان بولی، نو دا پاکستانی استخبارات څنګه خپل اجنټان په خپلو اجنټانو وژنی؟

**اوس پوښتنه داده چی د ډیورند کرښه یوه ملی مسأله ده او که نه؟**

داسی بی مسؤولیته خبری ولی بی ځوابه پاتیږی؟


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نور محمد تره کی، حفیظ الله امین، ببرک کارمل، داکتر نجیب، صبغت الله مجدې، ربانی، ملا محمد عمر او حامد کرزی چی هر یو په خپل وار د کين او يا ښی اړخو حکمرانان وه دا جرات ونکړ، خو داسی بی مسؤولیته کسان د کارپوهانو! تر نامه لاندی ملنډی وهی او موږ لاس تر زنی ورته ناست یو ۰

زما هیله داده چی ښاغلی اکادمیسن سیستانی، ښاغلی جهانی، ښاغلی ډاکتر کاظم، ښاغلی ولي احمد نوری او نور پوهان دی ملی مسائل او ملی منافع توضیح کړی او د داسی مسائلو حل د چا صلاحیت دئ ؟ افراد او اشخاص د ملی مسائلو سره څنگه برخورد کولای سی؟ تر څو نه یوازی زما په شان نور افغانان دی پوښتونو ته ځواب پیدا کړی. او زموږ کارپوهان ! هم خپل حد و پیژنی.

پای۰

م۰راغستانی


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ